محمد رحيم جاويد ۲۰۱۲/۰۴/۲۸

# د غوايي اتمه: بيا هم د شيطان په لومه کې

د هغو مظلومو شهيدانو پاکو ارواو او د هغوی دپاتې شونو معصومو اوښکو په ياد او درناوي، چې د ثور اوومې او اتمې د فتنو قرباني شول او قاتلان يې تر ننه بې محاکمې ګرځي.

بيا هم د غوايي اتمه ده؛ دا "اتمه" د "اوومې" پسې راغلې. نن د "اوومې" او "اتمې" شيطان د دجال په غيږ کې د قارون په کتاب يوبل ته د "ملګري" او "ورور" لاس ورکړی دی.
هو، د غوايي اتمه ده؛ بيا شيطان د بيګناه افغان په وينو سره پردی توره تر ملا او قران په لاس کې د تير په شان په رڼا ورځ اوښ په بډو وهي او د ځمکې پر مخ ويده قوم مخ ته دريږي. د "جهاد" او "مقاومت" او د هغو د "برکت" کيسې کوي. شيطان بيا په قران او وينو بولی وهي؛ پنځلسو قومونو د آزادولو زړې کيسې کوي؛ بيا پرديو د آزادولو د ثوابونو زهرجنې افسانې کوي. شيطان د برلين ديوال يادوي؛ شيطان خلکو ته وايي چې د "جهاد" او "مقاومت" برکات په افغان خاوره کې نه بلکې پرديو خاورو کې وګورئ؛ په منځنی آسيا او برلين کې يې وګورئ!؟ خو بې حيا شيطان ته مخامخ، د ده په ګوليو د کابل رنګ، سوري سوري ديوالونه په حيرت ګوري؛ کاشکې دغو ديوالونو وياندە ژبه درلودای؛ خو آيا خبرو ته يې اړتيا شته؟

په دغه ورځ په ميليونو شهيدې ارواوې ځوريږي؛ په شهيدو وينو رنګ په لکونو د هډوکو اندامونه د کابل او د هديرو وطن نه راپورته کيږي او د شيطان مخې ته دريږي؛ دوی غواړي چې شيطان له غاړې ونيسي، ترې حساب وغاړي، خو لاس يې نه رسيږي. نور څوک هم ورسره مرسته نه کوي. دوی ډير ناهيلي کيږي او پوښتي چې د دوی دا "ژوندي" ورونو ولې د دوی وينه دومره ارزانه کړې؟ عدالت غوښتنه يې ولې مړه ده؟ د دوی عقل او هوښياري چا اخيستې؟ شهامت يې چا وژلی؟
د دوی "ژوندي" ورونه په خپله چوپتيا د شيطان ملګرتيا کوي؛ په مرګوني خوب ويده دي؛ ژبې لري خو خبره نلري؛ ستونی لري خو غږ نلري؛ سترګې لري خو نه ويني؛ سر لري خو هوښ نلري؛ زړه لري خو حس نلري، مينه نلري. ځکه نو شيطان له عدالته هيڅ ويره نلري او له سترګو يې نوي مرګونه اوري.

د شهيدو اندامونو تمه له ژونديو شکيږي؛ مګر دا ټول شهيد اندامونه بيا د شيطان په ناولي لاس کې په پاک کتاب قسم يادوي او شيطان ته وايي، چې زموږ سره خو اوس وس نشته چې حساب درسره وکړو او ځمکې په سر "ژوندي" ورونه مو هم مړه دي چې زموږ پوښتنه وکړي؛ خو ستا سره زموږ د حساب ورځ په يقين راتلونکې ده؛ په همدغه کتاب به درسره حساب کوو، چې نن ته پرې سوداګري کوئ؛ هغه حساب به ډير سخت وي او بيا به مو د خلاصون څوک نه وي. ستا يو څو ملګري زموږ نړی ته راغلي؛ پوهيږئ چې څه حالت لري؟
آيا کله به هم د دې خاورې انسان دا فکر او غږ وکړي چې دا دوه ـ دوه نيم ميليون انسانانو د همدې لپاره قربان شول چې نورو ته خپلواکي راولي او خپل وطن ته اسارت؟ پردي آباد کړي خوخپل وطن برباد؟ پردو ته هوسا ژوند وغواړي خو ځان ته مرګ؟ نورو ته کور خو ځان ته ګور؟ پردو ته شرافت خو خپل وطن ته ذلت؟ د برلين ديوال ونړوي، نورو ته پيوستون او ځان ته بيلتون؟
ښايي د برلين ديوال ته به شيطان پلورلې افغان معصومه وينه دمه شوې وي، او ديوال به يې نړولی وي يا به نه وي خو مګر د برلين د بيلتون ديوال ورانول زموږ دنده وه؟ مګر برلين خپل څښتن نه درلود؟ مګر زموږ وينې د دې لپاره دي چې پردي پرې ژوند وکړي؟ هغه مهم څه چې مو نورو ته ورکړي، بيا ولې خپل ځان ترې محروم کړو؟

شيطان د مظلوم افغان کور وران کړ او ځان ته يې پرې په شيرپورکې د تاريخ په تتر مانی جوړه کړه. شيطان، خلک به خپل وطن کې بې وطنه کړي. له شيطانه اوس قارون هم جوړ شوی؛ دی تر بل هروخته زيات د زرو او وينو تږی دی. اوس شيطان د برلين ديوال ترڅنګ هم په افغان وينو سره د هډوکو مانی لري. شيطان ځان ته هرڅه په دې دنيا غواړي خو نورو ته يې بيا په هغه دنيا. شيطان ډاډه دی، بازار يې اوس هم ښه تود دی، ځکه پوهيږي چې د قابيل لمسيان لا اوس هم يو بل پسې پردی توري په لاس دي، دشيطان په لومه کې ګير دي او د وينو باب پای نه تر سترګو کيږي.
د خاورې ميليونو انسانانو هم خپلې، هم پردی او هم د يوبل وينې توی کړې، وطن ټول هديره شوه، خو تر ننه هم دا وطن د افغانانو وطن نه شو، که څه هم د افغانستان په نوم يې يادوو.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د تاریخ سبق خو دا دی چې که په میلیونونو نور هم د خپلو تیرنسل په پلونو پل کیږدو، یوازې وطن ړنګوو، هدیرې آبادوو، د کونډو، یتیمانو او وږو شمیر ډیروو او بس.
د وطن د آزادۍ او دفاع لار، د ټوپک او وینو لار نه ده. موږ ټوپک ډیر خراب کارولی دی، ځکه یې دومره خوار کړي یو، چې کله سړی فکر کوي، چې هیڅ ټوپک او هیڅ ټوپکوال ته اړتیا نلرو ولو که ملي دفاع او ملي اردو او ملي... نوم پرې ایښودی وي، ځکه د دوی ټوپک هم تر ننه پر خپل کور میلیاردو پردۍ ګولۍ ورولي دي؛ کوم یې ګز کوم یې میدان؛ کوم یې دهلی، کوم یې پاني پت.

دا خاوره نور په لښکرو نه بلکه په ښوونځیو ساتل کیږي. د نجات لاره، مدني اوناپوځي دفاع ده چې د لاس او پښو سره نه بلکه د فکر سره سروکار لري او له ښوونځي پیلیږي. دا هغه لار ده، چې له موږ پرته، ټوله نړۍ پرې روانه ده. دا لارله وینو او شیطانه پاکه ده. په دې لارکې ویده افغان راویښیږي او ځان او نړۍ په خلاصو سترګو او عقل ګوري او د شیطان لومه ماتوي. دا لار د شیطان له شره د خلاصون یوازنۍ لار ده. په دې لار کې د " جهاد" او "مقاومت" خبرې یوازې د تاریخي پند لپاره سرچینه ګرځي، نه د زور او نه د زر لپاره دام.
په دغه ځای کې بیا د پردو پرآزادولو او د برلین په دیوال څوک نه وياړي؛ بیا د کابل دیوال یعنې د افغان وران دیوال په جوړولو خبره کیږي. دلته بیا آزادي، خپلواکي، آبادي او ښیرازي یوازې او یوازې د افغان چوپړ ته درومي او زموږ د هغو دوه - دوه نیم میلیونو انسانانو اصلي ارمان همدا و نه کوم بل څه. دا خوب ریښتیا کیدای شي خو که موږ وغواړو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ